# ژباړلی لمونځ

د هغو لمونځ کونکو پر حال افسوس دی
چې له خپل لمانځه نه بې خبره وي.
الماعون / ۵۰۴

تر لمانځه وروسته
۳۳ ځله سُبحَانَ اللّٰهِ، ۳۳ ځله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ
او ۳۴ ځله اللّٰه اکبر و یل ډیر غوره ذکر دی.

ثنا: سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ | وَبِحَمْدِكَ | وَتَبَارَكَ اسْمُكَ | وَتَعَالٰى جَدُّكَ | وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ
خدایه ته پاک یې | او ستاینه (ثناء) تا ته ښایي | نوم دې مبارک دی | شـان دې لوړ دی | بې له تا بل خدای نشته

تعوذ: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ | تسمیه: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | فاتحه: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ
خدای ته پناه وړم له ویشتلي (رټلي) شیطان څخه | د بخښونکي او لورونکي خدای په نامه | ټولې ستاینې له هغه نړۍ پالونکي خدای سره ښایي

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ | اِيَّاكَ نَعْبُدُ | وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ، | اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ،
چې بخښونکی او لورونکی دی، د جزا د ورځې څښتن دی، یوازې ستا عبادت کوو او له همدا تا څخه مرسته غواړو مـوږ ته سمـه لار وښیـه

صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ | غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ، | وَلَا الضَّآلِّيْنَ | (آمين) | اخلاص: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ،
د هغو لار چې تا پرې نعمتونه لورولي دي، نـه د غضب کړای شویو لار، نه د بې لارې شویو لار (زموږ دعا ومنه) | (پیغمبره!) ورته ووایه خدای یو دی

اَللّٰهُ الصَّمَدُ، | لَمْ يَلِدْ | وَلَمْ يُوْلَدْ، | وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ | تکبیر: اللّٰه اکبر
خدای بې نیازه دی، نه زېږونکی دی او نه زېږېدلی دی او نـه یـې څـوک سیـال شته | خـدای ډېر لوی دی

تسبیح: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ | تسمیع: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ | تحمید: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ
زما سـتـر خـدای پـاک دی | خدای د ستاینونکي خبره اوري | خدایه ستاینه له تا سره ښایي

تکبیر: اللّٰه اکبر | تسبیح: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى | تکبیر: اللّٰه اکبر
خدای ډېر لوی دی | زما ستـر خـدای پاک دی | خدای ډېر لوی دی

تشهد: اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، | اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ | وَرَحْمَةُ اللّٰهِ | وَبَرَكَاتُهٗ،
(بدني او مالي) نمانځنې د خدای لپاره دي. | نبي (ص)! سـلام، | او د خـدای رحمت | او برکتونه دې درباندې وي

اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، | اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ | وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ
سلام دې پر موږ او د خدای پر ښو بنده ګانو وي | ګواهي ورکوم چې بې له خدایه بل خدای نشته | او ګواهي ورکوم چې محمد (ص) د هغه بنده او استازی دی

درود: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ | كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ | اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ.
خدایه پر محمد (ص) او د هغه پر کورنۍ درود ووایه | لکه پر ابراهیم (ع) او د هغه پر کورنۍ چې دې ویلی و، | بې شـکه ته ستایلی او لـوی یې

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ | كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ | اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ.
خدایه پر محمد (ص) او د هغه پر کورنۍ برکتونه ولوروه | لکه پر ابراهیم (ع) او د هغه پر کورنۍ چې دې لورولي وو، | بې شکه ته ستایلی او لـوی یـې

دعا: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ | سلام: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ
خدایه موږ ته په دنیا او آخرت کې نېکي راکړه او د دوزخ له اوره مو وژغوره | سلام او د خدای رحمت درباندې (کراما کاتبینو او دواړو خواوو ته ناستو)

دعاء قنوت: اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ | وَنَسْتَغْفِرُكَ | وَنُؤْمِنُ بِكَ | وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ | وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ، | وَنَشْكُرُكَ | وَلَا نَكْفُرُكَ،
خدایه له تا څخه مرسته او بخښنه غواړو پر تا مو ایمـان او توکـل دی او ستـا غوره ستاینـه کوو او ستا مننه کوو او نا شکري نه کوو

وَنَخْلَعُ | وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ. | اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ | وَلَكَ نُصَلِّيْ | وَنَسْجُدُ
او موږ له هغه چا لرې وځو او پرېږدو یې چې ستا (له امره) سرغړونه کوي، خدایه همدا ستا عبادت کوو او ستا نمانځنه کوو او همدا تا ته مو سجده ده

وَاِلَيْكَ نَسْعٰى | وَنَحْفِدُ، | وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ | وَنَخْشٰى عَذَابَكَ | اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ.
او ستـا لـور ته درځغلو او ستا خدمت ته حاضر یو او ستا د رحمت او لورونو هیله من یو او ستا له عذابه وېرېږو بې له شکه ستا عذاب په کافرو پورې نښتونکی دی.

د تل افغان ټکـي کام خپلواکـي، ناپیلي، فرهنګـي - ټولنیزې اترټې خپرونې له خوا